مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي
۲۰۱۹/۰۳/۲۶

# په منځنۍ اسیا او افغانستان کې سترې لوبې،

## له اوس سره يې تړاو

### دريمه برخه

د سترو لوبو د ليکنې په دې برخه کې به د روس او انګرېز د ١٩ مې پېړۍ د سترو لوبو په بهير کې د هغوی د سياليو او کړنو پرتله په افغانستان کې د بهرنيانو د ننيو سياليو سره وکړو. وبه ګورو چې څه وخت بهرني قوتونه په کومو ملکونو کې له خپلو حريفانو سره ځنګه سيالي کوي. ايا د پاکستان په افغانستان کې د ستراتېژيک عمق غوښتنه او د دې لپاره د افغانستان تيارول له سترو لوبو سره ورته والي لري او که نه؟ همدارنګه، د روسانو، ايرانيانو، عربي او غربي نړۍ د ټولو قوتونو ترمنځ سترو لوبو ته ورته سيالۍ نه دي رواني؟ هغه کومې تېروتنې دي چې موږ يې له پخوا تکراروو او اوس څه کول په کاردي....؟

په نولسمه پېړۍ کې د وخت دوو سترو امپراتوريو برېتانيا او روس له يو بل سره په نړۍ کې د ځمکو او ملکونو په لاندې کولو، د خپل نفوذ په زياتولو او په نورو خلکو او سيمو د خپلو ارزښتونو په منلو او زياتو اقتصادي زېرمو ته د لاسرسي لپاره سيالي کوله. انګريزانو د هند نيمه وچه نېولې وه او روسانو منځنۍ اسيا چې هر يوه ته يې خورا زيات اقتصادي، جيوستراتېژيک او جيوپوليټيک اهميت درلود او ټل يې د ساتلو په فکر کې وو. روسانو د تزاري پټر کبير امپراتور له وخته د ګرمو بحري اوبو تجارتي او ستراتېژيکو لارو ته په تورسمندرګي، خليج فارس او بحر هند کې سترګې نېولې وې. خو انګرېزان هم ټل په دې فکر کې وو چې ځنګه روسان پرېنږدي چې هند ته ورشي بلکه انګرېزانو غوښتل چې منځنۍ اسيا ته ځان ورسوي. نو دوی اړتيا درلوده چې په سيمه کې خپل جيوستراتېژيک او جيوپوليټيکي نفوذ زيات کړي، شاوخوا ملکونه په هره بڼه که هغه سياسي او که نظامي وي تر خپل نفوذ لاندې راولي او پرېنږدي چې د هغوی حريف ورته رانږدې نشي.

**انګرېزانو غوښتل چې افغانستان، ايران او ترکيه د حايل ملکونو په توګه د روسانو په وړاندې وکاروي تر څو بحري لارو ته لاسرسی و نه مومي او هند ته ورنشي چې دا پلان تر ډېره د افغانستان په هکله بريالی شو ځکه يو د افغانستان جغرافيايي موقعيت، په هغه کې د پامير او سليمان د غرونو لړۍ د يوه قوي ديوال او سنګر په توګه ښه کارېدای شول او د هند وچې ته لنډه لاره وه او بله مهمه داوه چې موږ په دې تاريخي مرحله کې تر نورو کمزوري او ويشل شوي وو او داسې ښکارېده چې زموږ هېواد دا قدرتونه د خپل حريف په وړاندې لکه په اوس وخت کې ښه کارولی شي.** نو همغه و لمړی هر يوه په تېره بيا انګريزانو غوښتل چې افغانستان تر خپل نظامي کنټرول لاندې راولي، خو بيا دواړو امپراتوريو پرېکړه وکړه چې افغانستان کمزوری او د حايل په توګه د خپلو امپراتوريو په منځ کې وساتي.

په ١٨٣٨ م کال، په لندن کې اوازې شوې چې روسان د خېوې په لور حرکت کوي او فارسيان غواړي چې هرات ونيسي، بيا کندهار ته لاړ شي او د هغو له لاسه وتلو ځمکو جبران وکړي چې د روس او فارس په جګړه کې يې له لاسه ورکړې وې (٢٨ -١٨٢۶). د فارس د هغه وخت نوي پاچا چې رضا شاه نومېده له روسي نماينده کونت سيمونيچ او د روسي افسرانو او سربازانو له يوه ګروپ سره چې د يوه پولندي جنرال بېروسکي په نامه تر قوماندې لاندې و او هرات ته نېږدې راغلی و او هرات يې کلا بند کړی و. په دې وخت کې يو انګرېز د بنګال توپچي افسر چې الډرډ پوټېنجر نومېده په پټه هرات ته رسېدلی و، له افغاني لوري سره يې د سرتېرو په روزنه او د جنګ په ستراتيېژۍ کې مرسته کوله، د هرات کلابندي اته ( ٨ ) مياشتې اوږده شوه، برېتانيا د نظامي عمل تهديد وکړ او فارسيانو محاصره ماته او سيمه يې خوشې کړه.

لارډ اکلنډ او دولت يې پرېکړه کړې وه چې په هره بيه وي روسان بايد د افغانستان له لارې له هنده لېرې وساتل شي، که د خبرو په واسطه وي او که په افغانستان کې ورسره د بېرحمه ځواک کارولو په وسيله وي. لکه پخوا هم د انګرېز د بهرنيو چارو وزير **پالمرسټون او دولت يې هوډ وکړ چې افغانستان ونيسي نو الکساندر برنيس يې غوره**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

**شو چې افغانستان د دې کار لپاره ته تیار کړي.** اصلي لامل دا و چې هېڅ هوښیار ملک او واکمن نه غواړي جګړه خپل ملک او د خپلو اقتصادي ګټو سیمې ته راولي. بلکه په جیوستراتېژیکو سیالیو او په نیابتي جګړو کې د بل په وینو او د بل ملک د ورانېدو په بیه له خپلو حریفانو سره مخامخ کېږي.
بیا روسانو او انګرېزانو خپله ستراتېژي بدله کړه او په ګډه یې پرېکړه وکړه چې یوه زیان منونکې سیمه او ملک باید د حایل په توګه د دوو امپراتوریو تر منځ وکارول شي او داسې ښکارېده چې دا زیان منونکې سیمه او ملک به افغانستان وي. زیان منونکي ځکه چې هغه باید تر کنټرول لاندې وي، رښتیني ازادي ونه لري، د هر ډول سیاسي مثبتو بدلونو مخه پکې ډب شي، سره وویشل شي، له نورو نړیوالو او سیمه ایزو قدرتونو سره اړیکو ته پرېنه ښودل شي، ښه رهبران او خاین عناصر یې وپېژندل شي او خاینان د خادمو مشرانو په ورانډې د قدرت په لوبه کې اخته کړي او دوی له خاینانو ننګه وکړي.
د ۱۸۳۸ م کال د اکتوبر په میاشت کې لارډ اکلند د شېملې مانیفست په نامه، د پورپاګنډې (تبلیغاتو) یوه خبرپاڼه خپره کړه او داسې طرح شوې وه چې د امیر دوست محمد خان شهرت تر سوال لاندې راولي او ادعا یې کړې وه چې شاه شجاع په خلکو کې درناوی لري، یو روڼ اندی! کس دی، که څه هم هغه دومره جاهل و چې کلکته یې په لندن کې بلله. لارډ اکلند د امیر دوست محمد خان په هکله یې ویلي و: « **امیر دوست محمد خان په برالا توګه تهدید وکړ... هره بهرنۍ مرسته چې دی تر لاسه کړي قبوله به یې کړي... موږ (انګرېزان به هېڅکله د خپل ګاونډ د ارامۍ تمه ونه لرو... ګورنر جنرال په یقین سره غواړي چې امېر له تخته او قدرته لېرې شي ... کله چې د افغانستان خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا بېرته خوندي شي... نو د بریتانیا پوځ به بېرته ووزي. په نظر کې ده چې د برېتانیا نفوذ افغانستان ته وغزول شی او پرېکړه وشوه چې افغانستان یو حایل دولت شي. د اشغال لامل روښانه وه، کله چې مانیفست لندن ته ورسېده ورسره مخالفت ونشو.»**
خو د پورته ادعا په خلاف امیر دوست محمد خان چې د لوی امیر په نامه هم یادېده، یو مدبر، د یوه غوره لرلید خاوند او وطندوسته واکمن و او وزیر اکبر خان غوندې زوی یې روزلی و. رنجیت سنګ چې د هغه وخت زیاتې افغان خاورې یې لکه کشمیر، پېښور، ملتان او نور نیولي وو امیر دوست محمد خان تمه لرله چې انګرېزان به ورسره مرسته وکړي چې پېښور بېرته ونیسي. امیر له برنیس سره دا خبره شریکه کړه خو برنیس په ظاهره څه ونه ویل خو ټکي په ټکي یې د افغان امیر غوښتنه ډهلي ته نقل کړه او لارډ اکلنډ او نورو چارواکو نه یوازې نه غوښتل بلکه سخت د دې خبرې مخالف وو ځکه رنجیت سنګ یې پخوانۍ متحد و او د افغانانو په شان یې ورنه وېره نه لرله. خو لکه ټول تاریخ پوهان چې د افغانانو په هکله وایي: د افغانانو یو کمښت دادی چې زر باور کوي او له دې کبله تل زیات تاوانونه کوي او همدا زر باور و چې امیر په انګرېزانو کړی و. اوس موږ ته په کار ده چې له دې خپل تاریخي کمښته چې موږ تل تکرار کړی دی، زده کړه وکړو.
غوره درس به داوي چې بېله دې چې موږ د بهرنیو قدرتونو ستراتېژیکې موخې سمې درک کړې وي له هغوی زیاته تمه ولرو. همدارنګه، یوازې په بهرنیو تکیه کول او خپل ملي نظام او وړتیاوو ته ستراتېژیک پام نه کول به تل موږ په خوله ولي. موږ ګورو چې موږ افغانانو په هغه وخت کې په انګرېزانو او بیا وروسته په روسانو، پاکستانیانو، ایرانیانو، عربانو، غربیانو او نورو مو د خپل تاریخ په مختلفو برخو کې زر باور کړی دی او زیات زیانونه مو لیدلي دي.
ما په انټرنټ کې د کوم افغان لیکنه ولوستله ( خو نه پوهېږم چې دا خبره سمه ده او که نه خو د سړي عقل ېې مني) چې کله ډاکټر نجیب د افغانستان پخوانی ولسمشر د ملل متحد په دفتر کې تر نظارت لاندې ونیول شو، روسان که څه هم د ژنیوا د هوکړې تضمینوونکي او د همدې تړون په بنسټ ډاکټر نجیب قدرت سپاره، روسان د هغه او د دهغه د رژیم پخواني دوستان وو، خو ورته شا کړه، د هغه په وړاندې یې هېڅ د مسولیت احساس ونه کړ، که څه هم هغوی به توانېدلي وای چې ناروغ ډاکټر نجیب د کابل د هغه وخت د رژیم له نظارته راخلاص کړي او کوم بل ملک ته یې واستوي، ډاکټر نجیب ځیر شو چې دی خپله، ګوند یې او ټول افغانان د همغو سترو لوبو د دوام ښکار شوي دي.
ډاکټر نجیب د سترو لوبو به نامه کوم کتاب وموند او په پښتو یې وژباړه، بیا یې هند ته د چاپ لپاره واستاوه خو په لاره او یا هند کې چې هر چاته هغه ژباړه لاس ته ورغله، کېدای شي نه یې وي خوښه شوې هغه ژباړه یې نابوده کړه او یا به یې د ورکېدو لامل بل څه وي. سوال دادی چې روسان خو د ژنیوا د مذاکراتو تضمین کوونکوي وو، د کابل حکومت او په راس کې یې ډاکټر نجیب ملګري وو، ولې یې شرم او د مسولیت احساس ونه کړ، لږ تر لږه یې ډاکټر نجیب چې قدرت یې هم د ملل متحد او د ژنیوا د مذاکراتو له مخې تسلیماوه، نو ولې یې د ملل متحد له دفتره و نه ایسته.
هر افغان ته به یقیني ښکاري چې ډاکټر نجیب به د نظارت په دوره کې څومره له روسانو خفه و، څومره به پخپلو پخوانیو اړیکو پښیمانه و او د افغانستان د راتلونکي لپاره به یې څه غوښتل. په رښتیا به یې هم فکر کړی وي چې ولې روسانو دی همداسې پرېښوده کاشکې د هغه خاطرې او یادښتونه چاته په لاس ورغلي وای او له ملت سره یې شریکې کړي وای. همدارنګه، دا مسئله د هغه ګوندي ملګرو او ټولو افغانانو ته باید د بحث وړ وي. باید په ځانې او ټولیزه توګه وپوښتو چې ولې داسې وشول، دا یوازینۍ پېښه وه که بیا بیا تکرار شوې ده.؟ دلته باید عقیدوي او سلیقوي خبرې یوې خواته کړو او د یوه ملت په توګه دې سوال ته ځواب ووایو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اوس راځئ وپوښتو له زياتو نورو مشرانو سره څومره همداسې لوبې شوې. تر يوه وخته دوی له نورو ملکونو سره ښه ګرمه يارانه درلوده خو بيا يې دوی همدغو خارجي ملګرو خپل سرنوښت ته پرېښودل بلکه سخت يې په ضد هم شول. ځينو خو په دې اعتراف هم کړی دی او زيات نور هم ښه پوهېږي، يا به وايي او يا به نه وايي او زه خو ډېر مثالونه لرم چې خپلو بهرنيو ملګرو يې چې کله اړتيا نه ورته درلوده او خپلې ګټې يې له بل چا سره ليدې څه يې ورسره کړي دي.
نو موږ بلنه ورکوو او افغانان ورباندې حق لري چې همدا اوس پيل وکړي، په دې هکله خپلې تاريخي تر خې خاطرې او تجربې يا خپله وليکي او يا کوم ليکوال وګوماري چې د بهرنيانو لمړنۍ وعدې، موخې او د پای کړنې او وفادارۍ وليکي او کله چې مناسب وخت وي سره له اړينو درسونو او سپاربښتنو يې خپاره کړي. که دوی دا کار نه کوي نو تر دوی به په تاريخ کې بې همته کسان نه وي. تاريخ خو دا کار کوي مګر په دوی به لعنت وايي چې ولې يې ملي مسئلې له خپلو خلکو سره شريکې نکړې.
دا ولې اړتيا ده؟ اړتيا ځکه ده چې موږ د نړيوالو او سيمه ايزو قدرتونو له اړيکو زيات زيانمن شوي يو. بايد له دې څخه درس اخيستل په يوه ملي ديالوګ بدل شي، ورنه درسونه واخلو. موږ نشو کولای چې له نړيوالو سره ښې اړيکې ونلرو، او بايد عقدې او غچ اخيستل هم پرېږدو يوازې پوه شو چې کوم انتخابونه په لاره واچوو، له کومو ستراتېژيو کار واخلو او کوم ملي ارمانونه ځان او خپل ملت ته په ګډه وټاکو تر څو پخپلو پښو ودرېږو او په راتلونکې کې بيا تېرې ترخې تيروتنې تکرار نکړو.
اوس بيا راځم د سترو لوبو خبرو ته. په ۱۸۳۸ م کال روسي استازی ويتکوويچ کابل ته راغی او امير دوست محمد خان چې د انګرېزانو له اړخه ناهيلی شوی و، د انګرېزانو د ميل خلاف يې دې روسي استازي ته ښه راغلاست ووايه او خپل دربار ته يې ومانه. روسي استازي امير ته وويل چې دوی درک کوي چې رنجيت سنګ زياتې افغان خاورې لکه پېښور ملتان او کشمير نيولي دي او روسيه چمتو ده له افغانانو سره ډيپلوماتيکي او مالي مرستې وکړی او د يوه سپر په توګه د انګرېز په وړاندې ودرېږي چې د منځنۍ اسيا په لور پرمختګ ونه کړي. ده وويل چې روسيه ډېره لېرې پرته ده نو عسکر نشي استولی خو مالي مرسته به وکړي چې له رنجيت سنګ سره افغانان جګړه وکړي.
مورخ مولانا کشميري وايي په دې وخت کې برنيس له اميره اجازه واخيستله چې بېرته هند ته لاړ شي خو داسې يې و انګېرله چې په زور ايستلی شوي وي، ځکه روسي استازي ته هرکلی ويل شوی و او برنيس ارومرو غوښتل چې دا خبر له ټولو اړخونو سره هند ته يوسي. مورخ مولانا کشميري وايي: که څه هم په ظاهره برنيس د ازاد تجارت د ودې په نامه ليګل شوی و، خو اصلي دنده يې داوه چې د افغانانو او روسانو په هکله معلومات راغونډ کړي. هغه د خپلو يادښتونو په کتاب کې ليکلي و: زه قانع يم ماته ويل شوی و، په کابل کې يو ناشونی ماموريت ترسره کړم؛ خو هغه کارونه چې زه يې په ترسره کولو کې بريالی نشوم، د برياليتوب تمه يې هم له چا سره نه وه!
کله چې برنيس له کابله د تګ تياري نيوله په سيمه کې يو شمېر نورې پېښې هم وشوې. امير دوست محمد خان جنرال هری سنګ ته چې نوی د رنجيت سنګ لخوا پېښور ته استول شوی و، وليکل: که غواړې، نو دی به ورته ښښنه وکړي. او که نه د ده زوی وزير اکبرخان ته دې د جنګ لپاره تيار شي. کله چې د امير وړانديز و نه منل شو جګړه حتمي شوه. په ۱۸۳۷ م کال افغان ځواکونه، چې مشري يې اکبر خان کوله، له هری سنګ سره د مقابلې لپاره روان شول، جمرود ته نږدې په يوه کلا کې جګړه پېښه شوه، اکبر خان په مېړانه له هری سنګ سره مخ شو او يو په بل يې سخت ګزارونه وکړل او هري سنګ يې په ځمکه راوغورځاوه او ويې واژه او تن په تن جګړه يې وګټله. وروسته د هري سنګ تر وژل کېدو نور لښکر يې هم ماتې وخوړه او دا د وزير اکبر خان لمړۍ مهمه بريا وه او هغه په افسانوي قهرمان د بدلېدو په حال کې وه. برنيس د اکبر خان په هکله وايي چې هغه يو مدبر رهبر او پلان جوړوونکی، زړور قومندان او جنګيالی و. اکبر خان د ۱۹ مې پېړۍ په څلورمه برخه کې د افغانيت او زړورتوب يوه نمونه و او زياتو افغانانو او بهرنيانو د هغه د قهرمانيو ستاينه کړې ده. د ده په هکله ويل شوي دي:

**د ده په مخ کې غونډ جهان ښکارېده**
**د هر چا سترګې اکبر تــه ور اوښتې**

تاريخ پوهان وايي چې اکبر خان حق لري چې د افغانستان ډيپلوماتيکه ساحه په کابل کې د ده په نامه ده. ځکه دی هغه جنرال و چې د انګرېزانو تګ راتګ يې په ځير ځير څارل.
لکه چې پوهېږو تاريخ د دې لپاره لولو چې له تېرو پېښو، تجربو، تېروتنو او برياوو د اوس او راتلونکي وخت لپاره ګټه واخلو، نو ځکه موږ سترې لوبې لولو او ګورو د ۱۹ مې پېړۍ په سترو لوبو کې له اوس سره څه ورته والی شته. که لږ ځير شو، لکه يوه تاريخ پوه او څېړونکي چې ويلي دي چې سترې لوبې هېڅ کله هم نه ختمېږي، او موږ هم وينو چې زموږ په سيمه کې همغه لوبې په يوه او بل شکل اوس هم تکرارېږي. هغه وخت انګرېزانو خپل ګوډاګي شاه شجاع چې کلکته يې په لندن کې بلله راته روڼ اندی معرفي کاوه، د همدوی د جاسوسانو په قول تر افغان ګټو يې د انګرېز ګټو ته لمړيتوب ورکاوه، خو دوی به موږ او نړيوالو ته ويل چې هغه يو روڼ اندی انسان دی او په افغانانو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کې محبوبیت لري، نن هم ځینې بهرنیان په دې یا هغه نني کس لاس ایږدي او تر ټولو وړ کس یې د افغانستان د رهبرۍ لپاره بولي.
هغه وخت ښکېلاکګرو افغانستان وروسته پاته، له نورو نړیوالو قوتونو سره له اړیکو محروم او د حایل په توګه کنګل، له ټولنیزو او سیاسي بدلونو محروم ساته، روسانو ویل چې که قوي مسلمان دولت په افغانستان کې جوړ شي د دوي د منځنۍ اسیا په مسلمانو مستعمرو به بده اغیزه وکړي نو یوازې د سرحدي سیمې امو سیند په ځای روسانو ټول افغانستان د حایل په توګه غوښته تر څو باید کمزوری وساتل شي. انګرېزانو به هم روسان ځارل چې افغان دولت ته مرسته ونه رسوي او د ځان خواته یې مایل نه کړي او له روسانو سره لاس یو نه کړي چې هند ته راشي. له شاه شجاع، رنجیت سنګ سره انګرېزانو یو دری اړخیز تړون لاس لیک کړ چې په ګډه به د روس مخه نیسي.
نن هم پاکستان غواړي افغان خاوره د خپلوګټولپاره د ستراتېژیک عمق په توګه وساتي، په دې معنی چې له هند سره به د احتمالي جنګ په وخت به زموږ خاوره د دوی د اردو د تېښتې او پټېدو ځای او هم د ستراتېژیکو وسلو د پټېدو ځای وي. پاکستان موږ ته په زغرده وایي: د هند او افغانستان ښې اړیکې نشي زغملای، او استدلال یې دادی چې هند به بیا له افغان خاورې د دوي په چارو کې لاسوهنه کوي. ګورو چې د سیمې هېوادونه لکه چین، روس، ایران او پاکستان اوس نه غواړي چې افغانستان له غربي ملکونو سره ښې اړیکې ولري، ځکه له دې ځایه به په دوی او سیمه کې نفوذ کوي.
بل دا چې په عادي شرایطو کې به دوی خپل بې کیفیته تولیدي او تجارتي توکي په موږ په لوړو بیو پلوري، مظلوم افغانان به د دوی په کروندو او فابریکو کې په شاقه کارونه کوي، که همدا اوس تاسو د زیاتو پاکستاني اربابانو حجرې وګورئ کوم مظلوم افغان به پکې مزدور وي، زیاتو افغانان د روسانو د اشغال په وخت دا حالت به خپلو سترګو لیدلی دی. نو پاکستان هڅې کوي د ۱۹ مې پېړۍ د روس او انګرېز امپراتوریو په څېر په کابل کې تر خپل اغیز لاندې او که ممکنه نه وه یو کمزوري دولت وساتي. خو موږ ته بیا اجازه نه راکوي چې د پاکستان په خارجي روابطو کې یو حرف هم ووایو. پخوا هم انګرېزان په دې خواشیني شول چې ولې د امیر دوست محمد خان په دربار کې د روسي استازي هر کلی وشو، حال دا چې روسانو له افغانانو سره د پام وړ مرسته نه کوله چې له خپلې خاورې تېري کوونکي وشړو.
ګورو چې د انګرېز په څېر دوی هم هڅه کوي چې د پورته موخو لپاره موږ ویشلي، په جګړو اخته، بېسواده، بېوزلي، له نورې نړۍ سره له تجارت او راکړې ورکړې او په ټولیزه توګه د واک او ځواک لرونکي دولت څخه مو محروم وساتي، له خپلو اوبو موږ ګټو وانخلو او تل دوی ته ورشي او خپلې دښتې ورباندې خړوبې کړي. له همدې کبله دوی د افغان ملي روحیې او وطندوستي او ملي ګرایۍ څخه زیات ډارېږي، ځکه بیا به موږ ورنه حق وغواړو، ډیورند به نه منو، په کوزو محکومو افغانانو به ظلم او تېری نه شو زغملئ او د لوی افغانستان ارمان به رښتیا کوو.
اوس راځو بېرته په ۱۹ مه پېړۍ کې د سترو لوبو بهیر ته. د دسمبر په میاشت کې انګرېزانو کابل ته مارش وکړ او امیر دوست محمد خان یې اسیر او له ځان سره هند ته بوته او په ځای یې پخوانۍ واکمن شاه شجاع وګوماره. شاه شجاع په ۱۸۰۳ م کال قدرت ترلاسه کړی و، په ۱۸۰۹ کال یې د روس- فرانس د ائتلاف په وړاندې له انګرېز سره د روسیې او فرانسې په وړاندې یو تړون لاسلیک کړ چې د افغانستان له لارې هند اشغال نه کړي او په همدې کال د خپل ناسکه ورور امیر دوست محمد خان له خوا له قدرته لېرې شو. تر ۱۸۳۶ م کال پورې مختلف امیران په کابل کې تخت ته ورسېدل تر څو په همدې کال امیر دوست محمد خان بیا قدرت ونیو، بیا کشمکش زیات شو تر څو الکساندر برنیس په ۱۸۴۱م کال ووژل شو. د ۱۸۴۲م کال په جنوري میاشت کې افغانانو بیخي قیام وکړ او انګرېزانو پرېکړه وکړه چې له افغانستانه ووزي. د کابل فرقه چې ۴۵۰۰ سرتېري یې لرل او ۱۲۰۰۰ کسان نور ورسره وو د جلال اباد په لور وخوځېدل او په لارو د (۳۰۰۰۰ ) دېرش زره افغان جنګیالیو په واسطه تر حملې لاندې راغلل او یوازې یو ډاکټر براېډن په جلال اباد کې د انګرېز مرکز ته ورسېده او نور ټول مړه شول.
انګرېزانو بیا ځلې په افغانستان حمله وکړه او زیات قتل عام یې وکړ ترڅو د خپلو وژل شوو کسانو غچ واخلي. خو وروسته یې امیر دوست محمد خان په هند کې له بنده خوشی کړ او هغه بېرته له هنده کابل ته راغی او قدرت یې ونیو. ویل کېږي چې دوست محمد خان ویلي و: **« زه ستاسو (انګرېزانو) زېرمو، کښتیو، وسلو او قدرت ته حیران شوم، خو زه نه پوهېږم چې ولې د دومره یوې سترې ابادې امپراتورۍ واکمنان له اباسین څخه تېر شول او زه یې له خپل بېوزله ملک څخه محروم کړم.»**
روسان په 1830م کال کي د فرانسویانو په ځای رامخته شول او د هند مستعمره یې ترګواښ لاندې ونیوله. خو انګرېزان هم کرار کېنه ناستل. یو روسي استازی په تهران کې په عام محضر کې ووژل شو. په لندن کې د ځارنې د بورد مشر لارډ یلنبورغ په یوه یادښت کې ویلي و چې: دا مړینه د روسانو د غرور له مخې بېښه شوه. خو ده اندېښنه درلوده چې د روسي جاسوسانو د نیولو کیسه یې رسوا نشي. د هغه په دستور کې راغلي و که روسان د سویل په لور کوم خوځښت پیل کړي نو انګرېزان به کابل ونیسي. یلنبورغ یو ځان غوښتونکي شخص و. ده په 1829 م کال یوه پالیسي جوړه کړه، چې په 1947 م کال یا له هنده د انګرېزانو تر وتو پورې پکې زیات بدلون رانغی.
یلنبورغ تر هرڅه معلوماتو ته زیات اهمیت ورکاوه، لکه چې وایي: **« موږ د دغو لارو په هکله هېڅ نه پوهېږو، له دغو لارو څخه د ورهاخوا هېواد په اړه خبر نه یو او د هند د سمندر لوری هم رامعلوم نه دی. ده ویلي و چې موږ**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**زیاتو امکاناتو او معلوماتو ته اړتیا لرو چې له یوه پرمختللي دښمن سره د جنګ کولو توان ومومو او دا کار په پیسو باندې کولای شو.»**

یو بل افسانوي لیکوال (راجیف ډوګرا) په خپل کتاب کې چې د ډیورند توره کرښه نومېږي، د ډیورنډ کرښې تر لاسلیک دمخه په نېږدې یوه پېړۍ کې د تزاري روسیې او لویې برېتانیې تر منځ لویه لوبه تشریح کوي، دی هغې نظریې ته اشاره کوي چې وایي: ***((افغانستان په منځنۍ اسیا کې د پراخېدونکې روسیې او د پنجاب پر لور د پراخېدونکې بریتانیې تر منځ د یوه ساندوېچ په څېر و))***.



"SAVE ME FROM MY FRIENDS!"

دا پورته هغه سیاسي کارتون دی چې افغان واکمن شېرعلي خان له خپلو دوستانو! روسي خرس او زمري انګرېز په منځ کې راګیر دی ( م ۱۸۷۸).

په دې کتاب کې څرګنده شوې چې د روسیې او بریتانیې تر منځ پټې جګړې یا لویې لوبې څنګه پیل شوه؟ روسانو څه غوښتل؟ انګرېزانو په منځنۍ اسیا کې څه فعالیتونه کول؟ د بخارا امیر ولې د انګرېزانو د جاسوسانو سرونه پرې کړل؟ امیر دوست محمد خان له انګرېزانو او روسانو سره څه ډول روابط او څه ډول مجبوریتونه درلودل؟ خېوه او پنجده څنګه ونیول شول؟ د افغان او روسي پوځونو تر منځ جګړه ولې ونښته، د افغانستان او روسیې سرحدونه څنګه مشخص شول؟ شاه شجاع دویم ځل څنګه واک ته ورسول شو؟ امیر شېرعلي خان ولې له روسانو ناهیلی شو؟ انګرېزانو او روسانو په کومو برخو کې مخالفت او په کومو برخو کې توافق درلود؟ دا او دېته ورته نورې ګڼې پوښتنې د لویې لوبې د تشریح په برخه کې ځواب شوي دي، (د ډیورنډ توره کرښه، پوهان یون).

*کله چې څوک دا برخه ونه لولي او په ناڅاپي ډول د ډیورنډ کرښې په باب بحث ته داخل شي، عادلانه قضاوت نه شي کولای. لیکوال د غمیزې پیل له همدې ګریټ ګیم څخه ګڼي. عبدالرحمن خان له تزاري روسیې سره روابطو ته ډېر متوجه و، هغه به ویل چې ((روسیه د فیل په څېر ده چې هر څه مخې ته ورځي له منځه یې وړي))، نو ځکه خو یې په ډېر دقت سره پر دې خبره ټینګار کاوه چې: **((افغانستان باید له دواړو ځواکمنو هېوادونو څخه مساوي واټن ولري.))***

*لیکوال د افغان ملت ټولنیز کرکټر او د پولادي امیر هوډ ته په کتلو سره همدا پوښتنه مطرح کوي چې کوم علتونه وو چې امیر یې پر داسې یو ګونګ سند لاسلیک ته اړ کړ؟ کتاب له همدې پوښتنو او انګېرنو پیلېږي او په پای کې دې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي، خو د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي، دی د موضوع شالید، دلایل او عوامل په تفصیل سره روښانه کوي.* **« د ډیورنډ په توره کرښه سپیني خبرې، د پوهاند یون لیکنه چې د راجیف ډوګرا په کتاب لیکل شوې ده.»**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ